خوشحال آصفي ۲۰۱۵/۱۲/۰۲

پر اساسي قانون د تطبيق د څار کميسيون؛څه کړي او څه به وکړي؟

د هيواد اساسي قانون د ۱۵۷مي مادې له مخې، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون د قانون د احکامو له مخې جوړېږي او د دغه کمېسيون غړي د ولسمشر له خوا د ولسي جرګې په تأئيد ټاکل کېږي. په همدې لړ کې تېره ورځ د ګډ حکومت د مشر اشرف غني له لوري د يو فرمان په صادرلو سره؛ سرور دانش شپږ کسان د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون او يو کس د ستري محکمې د عالي شورا د نوماند غړي په توګه ولسي جرګې ته ور وپېژندل. دانش ولسي جرګې ته د يادو کسانو د معرفۍ پر مهال زياته کړه مور هغه وخت کولی شو چې د قانون حاکميت په ربښتيني معنی بنسټيز کړو چې د اساسي قانون پر څار د پلي کېدو کمېسيون له ولسمشر، د هغه د مرستيالانو او وزيرانو په ګډون ټول لوړ پوړي چارواکي تر څارنې لاندې ونيسي او په ټاکلو وختونو کې يو ځل د قانون د پلي کېدو وضعيت او د سرغړونې موارد د افغانستان له خلکو سره په ټولو جزئياتو شريک کړي. خو که په افغانستان کې وکتل شي اساسي قانون تر ډيره د همدغو دولتي چارواکو په ځانګړي ډول د هغو لخوا چې د حکومت په راس کې قرار لري؛ تر پښو لاندې کېږي.

په حقيقت کې اساسي قانون(Constitution Law) د يو هيواد تر ټولو عالي حقوقي سند ګڼل کيږي چې د قوانينو د مور حيثيت لري. يعني د يو هيواد نور ټول قوانين د اساسي قانون په چوکاټ کې تدوين کيږي نو هيڅ موضوعي قانون د اساسي قانون سره په ټکر کې نشي واقع کيداى. د هيواد ټول اتباع ياد قانون ته ژمن وي او ټول قانون ته ځان تابع ګڼي؛ نه دا چې قانون ځانته تابع کړي. له بده مرغه چې دلته په افغانستان کې بيا خبره سرچپه ده، دلته قانون په عام ولس تطبيق کيږي اما چارواکي تري مستثنی دي، دلته په غربيو بيچاره و قانون پلی کيږي او قانون ته تابعدار وي خو چارواکي او زورواکي بيا دلته قانون ځانته تابع ګڼي. دلته قانون د عام ولس لپاره بيل او د چارواکو او زورواکو لپاره ځانګړی بيل تعريف لري. اصلاً دوی قانون ته وفادار نه دي، ښه بيلګه يې د ولسمشر او اجرايوي رئيس له لوري آن د نوي حکومت د پيل په لومړي ورځ (د ولسمشر د لوړي پر ځای کولو) په ورځ د قانون ماتول؛ چې د اساسي قانون خلاف؛ د حکومت د دوارو شريکانو تر منځ د سياسي هوکړې له مخې يې؛ د اجرائيه رياست پوسټ رامنځته کول دي. له دې ورهاخوا د ګډ حکومت په يوه کلنه دوره کې په خپله د همدغو چارواکو لخوا د اساسي قانون پښتی ماتې شوې دي. د اجرائيه پوسټ رامنځته کول، د ولسي جرګې کاري موده په غير قانوني بڼه غځول، د سلاکار له لوري چې اجرايوي صلاحيت نه لري؛ د اجرأتو کول لکه د کابلبانک له پورورې سره قرارداد کول چې د عبدالعلي محمدي په امر شوي و، د اساسي قانون اته څلوېښتمې مادې څخه ښکاره سرغړونه چې يادې ماده حکم کوي: کار د هر افغان حق دی. خو دلته د چارواکو زامن، ورونه، خوريينه، د کاکا زامن او د چارواکي خپلوان د کار کولو حق لري آن د يو چارواکي خپلوان په درېو پوسټونو هم کار کوي او د غريب بيچاره زوی که ماسټري هم ولري؛ بې دندې ګرځي. ښه بيلګه يې د اجرايوي رئيس له لوري د مصطفی مستور؛ چې برحاله د مالېي وزارت مرستيال دی اوس د پخوانۍ دندې په شتون کې د اجرائيه رياست د ځانګړي سلاکار په توګه ټاکل شوی دی، د اساسي قانو د يوشپېتمې مادې تر پښو لاندې کول چې يادې ماده حکم کوي: جمهور رئيس د راى ورکوونکو د آزادو، عمومي،پټو، او مستقيمو رايو ورکولو له لارې په سلو کې ترېنځوسو د زياتو رايو په ترلاسه کولو انتخابېږي. د همدې مادې بله فقره وايي: د انتخاباتو په دويم پړاو کې هغه څوک چې د رايو اکثريت ترلاسه کړي، جمهور رئيس ګڼل کېږي. خو دلته تاسي وليدل چې د دويم پړاو ټاکنو د پايلو تر څرګندېدو وروسته بيا هم حکومت د دوه سيالو ټيمونو تر منځ پنځوس پنځوس فيصده وويشل شو. او داسي نور په لسګونو موارد شته چې پخپله د چارواکو له لوري د قانون د ماتونې نمايندګي کوي.

پوښتنه دلته ده چې که پر اساسي قانون د څار کميسيون په آزاد او خپلواکه توګه او په ربښتيني معنی له اساسي قانونه څار کولی نو بيا ولې يې د دې دومره لويو قانون ماتونو مخنيوی ونه کړ؟ ولې يې په زغرده غږ ونه کړ چې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ولسمشره، اجرائیه رئیسه، وزیره یا هم هر بل چارواکیه تا له اساسي قانونه سرغړونه کړي؟ او که په ربښتیا دوی له اساسي قانونه څار کولی شوای نو بیا ولي یي په هیواد کي د هېواد اساسي قانون د تصویب له نېټې تر اوسه چې تل د حکومتي کسانو په ځانګړي توګه د دولت د دري ګونو قواوو له خوا قانون نقض شوی؛ مخنیوی ونکړ. همداراز د دغې کمیسیون له نویو غړو هم ډیره تمه نشي کیدلای چې ګویا له اساسي قانونه به په بې پرې توګه څارنه وکړي، احتمال لري چې دوی به لکه د تیر کمیسیون؛ له اساسي قانون سره سیاسي چلند کوي او د حکومتي مشرانو له تأثیر لاندې به راځي.

بیا هم مونږ هیله مندي لرو چې لکه څنګه چې د قانون حاکمیت او پلي کیدل د هیوادونو لپاره د ښې حکومتوالي اساسي پایه او کلي ده نو پر اساسي قانون د څار کمیسیون ټول غړي مکلف دي چې لمړی خپل ځان قانون ته تابع کړي او په ځان یي عملي کړي او بیا په هغه چارواکو چې د حکومت له پیله یي په قانون ماتونه پیل کړی او د نوي حکومت بنسټ یي په قانون ماتونه ایښي؛ د قانون د تطبیق څار وکړي. له دې ورهاخوا د چارواکو په شمول ټول ولس باید هڅه وکړو چې د اساسي قانون او نورو قوانینو ساتنه وکړو ځکه چې د اساسی قانون او نورو موضوعی قوانینو مصونیت د قانون حاکمیت(Rule of Law) په معنی ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ